# د آموسیند اوبیزې حوزې د مرزي اوبو هایدرولوژیکي او حقوقي ارزونه

پوهندوی اسدالله رحمتزی[۱۲]

تقریظ‌ورکوونکی: پوهاند عبدالغیاث صافی

مجلهٔ علمی-تحقیقی حوزهٔ علوم
طبیعی پوهنتون کابل، ۱ (٤) ۱٤۰۰

**لنډیز**

د آموسیند اوبیزه حوزه په افغانستان ازبکستان، ترکمنستان، تاجکستان او قرغستان کې موقعیت لري. افغانستان د آمو سیندته ۳۰ سلنه اوبه برابروي. د آمو حوزې ګډو هیوادونو د ٥٦٦ پروتوکول له مخې د آموسیند اوبه ویشلې دی، خو افغانستان ته یې بلنه نده ورکړې. تیرو ۴۰ کلونو روان حالت ته په کتو افغانستان کولي شي، چې د نړیوالو اوبو د قانون له مخې له خپلو اوبو څخه پوره ګټه پورته کړی. ددې لیکنې اصلي موخه دآمو حوزی د ګډو هیوادونو ترمنځ د اوبو ویش او کارولو، هایدرولوژیکي او حقوقي ارزونه ده؛ چې د نړیوالو اوبو د اصولو او قوانینو په پام کې نیولو سره په افغانستان او نورو ګډو هیوادونو کې د اوبو کارول، کرنیزه ځمکه، اوبیز سیستمونه او آموسیند ته د اوبو ورکړه تحلیلوي. ددې لیکنې لپاره له معتبرو کتابونو، څېړنیزو راپورونو او مقالو څخه ګټه اخیستل شویده چې پایلې یې د افغانستان لپاره ګټورې بولم.

کلیدی اصطلاحات: افغانستان؛ آموسیند؛ ګډې اوبه؛ اوبیزه حوزه؛ جریان

# Assessment of Transboundary Water of the Amu River Basin

Asstt Prof. Asadullah Rahmatzai

**Abstract**

The Amu River Basin located in Afghanistan, Uzbekistan, Turkmenistan, Tajikistan, and Kyrgyzstan. Afghanistan provide 30 percent of the water of Amu River. The Amu River riparian distributes Amu river water under Protocol 566, but Afghanistan isn’t included in it. In current situtaion, Afghanistan is able to make full use of its water under international water law in all sub-basins. The main purpose of this article is to provide a hydrological and legal assessment of the distribution and use of water among the countries of the ARB and analyzes the water supply, withdrawal of water from the Amu River respective to international water law. Therefore, Authoritative books, research reports, and articles have been used to compare joint water agreements in the Amu riparian, international water principles, and the agricultural, lands, water use and influence of the countries in the basin. Its result is a positive step for Afghanistan IWRM.

Keyword: Afghanistan; Amu River; Transbounadary water; Catchment area; Flow

**ارجاع**

رحمتزی، ا سدالله. (۱٤۰۰). د آمو سیند اوبیزې حوزې د مرزي اوبو هایدرولوژیکي او حقوقي ارزونه. مجلهٔ علمی-تحقیقی حوزهٔ علوم طبیعی پوهنتون کابل، شماره ۱ (٤)، صص ۱۳۱ – ۱٤۷.

---

[۱۲] استاد پوهنځی زمین‌شناسی، پوهنتون کابل

**سریزه**

د اورال ســمندرگي اوبيزه حوزه د ايروژن قارې په زړه کې هغه اوبيزه حوزه ده چې د جغرافيايي موقيعت له مخې د مرکزي آسيا پراخه سيمې په بر کې نيسـی، چې ۹۹ سـلنه تاجکسـتان، ۹۵ سـلنه ترکمنستان، ۹۵ سلنه ازبکستان، ۵۹ سلنه قرغزستان، ۱۳ سلنه قزاقستان او ۳۸ سلنه د افغانستان شمالي برخې او د ايران کم شمېر سيمې په کې شاملې دي. د دې حوزې له نيمايي څخه زيات کلنی منځنی جريان په تاجکســتان او ۱/۴برخه په قزاقســتان هيواد کې رامنځته کيږي، څرنگه چې قزاقســتان، ترکمنستان او ازبکستان له ۵۰ سلنه زياتې دښتې لري او دغرونو ساحه يې له ۱۰ سلنه څخه لږه ده، نو له همدې امله نوموړي هيوادونه د اورال سـمندرگي د کلني جريان په رامنځته کولو کې ۱۰ سـلنه ونډه لري. له ۱۹۶۰ م کال څخه د مخه د اورال سمندرگی د نړي په کچه له کسپين سمندرگي، چاد جهيل او د شمالي امريکا د گريت جهيلونو (Great leaks) څخه ورو سته څلورم ځای درلود، چې له هغې وروسته دغه سمندرگی په پر له پسې توگه په وچيدو پيل وکړ.

د اوروال حوزې د ځمکې لاندې اوبو زېرمې په دوو برخو ويشـــل کيږي؛ د اوبيزو حوزو او غرونو څخه د تازه اوبو طبيعي جريانونه؛ او د ځمکې لاندې هغه اوبه چې، دکرنيزو ځمکو او هايدروتخنيکي ودانيو څخه په ځمکه کې جذبيږي او له افغانستان څخه پرته د آسيا د مرکزې هيوادونو په کچه ۳۱,۱ کيلومتر مکعبه اټکل شــويدي چې ۱۴,۷ کيلومتر مکعبه په آمو ســيند اوبيزه حوزه او ۱۶,۴ مکعب کيلومتره په ســير ســيند اوبيزه (Syr Darya basin) حوزه پورې تړاو لري (۱۰). د آموســيند اوبيزې حوزې په گډو هيوادونو کې د اوبو د بيلانس لپاره تر ټولو لو يه ننگو نه د اوبو د زيرمو ســـاحوي مديريت دی، چې کولای شي په بيلابيلو برخو لکه، کرنه، صـنعت، د برېښـنا توليد، ټولنيزو لگښـتونو لپاره د اوبو اړتيا او سيالي په انډول کې وساتي. اوسمهال ددې سيمې د اوبو د برېښنا وړتيا تر ۸ سلنې پورې پرمختگ کړيدی او په حوزه کې گډ هيوادونه غواړې چې دا وړتيا نوره هم لوړه کړي، پداسـې حال کې چې ۸۸ ســـلنه اوبيزې زيرمې يې په کرنه کې کارول کيږي. افغانســـتان چې ددې حوزې تر ټولو وروسته پاتې هيواد دی، آموسيند ته ۲۱,۵ نه تر ۳۰ سلنه اوبه ورکوي (۴، ۱۶).

د افغانســتان اوبيزې زيرمې به نا مسـاويانه ډول ويشـل شـويدی، د آموسـيند اوبيزه حوزه د هريرود او مرغاب حوزې په شمول د هيواد ۳۷ سلنه خاوره رامنځته کوي، پدا سی حال کې چې د اوبو کچه يی ۶۰ سـلنه ده. د هلمند اوبيزه حوزه ۴۹ سـلنه سـاحه په بر کې لري چې يوازی ۱۱ سـلنه جريان رامنځته کوي، همدغه راز د کابل اوبيزه حوزه چې ۱۲ سلنه خاوره پو ښې، ۲۶ سلنه جريان تشکيلوي. د اوبو په سکتور کې د افغانستان داوبو ملي ستراتيژی ماموريت، په هيواد کې د اوبيزو زيرمو د مديريت او

پراختیا لپاره ځانګړې شـــویدی، تر څو وکولای شي د فقر کچه را ټیټه، بنســـټیز اقتصـــاد او ټولنیز پرمختګ په ســـمه توګه وده وکړي ترڅو  د ټولو وګړو لپاره په ژوندانه کې انډول رامنځته شي، چې د راتلونکو نسلونو لپاره د پوره اوبو رسول، تضمين شي.

افغانستان په ۲۰۰۸ م کال کې د اوبو د سیستم ستراتیژي، چې د بندونو جوړولو او اوبه لګونې د پراختیا اړتیاوې پکې په پام کې نیول شـــویدي، ترتیب کړیده. ددې ســـتراتیژی په وړاندی لویې ننګونې په هیواد کې بشري، مالي او اداري ستونزې بلل کیږي، تر څو وکولای شي د خلکو لـــپاره د اړتیا وړ اوبـــه برابرې کړي ، هـــمداشان د هایدرولـــوژیکي، متیورولوژیکي، جیوتخنیکي او د اوبو  د کیفي معلوماتو نشتوالی، د اوبو دګټې اخیستلو قوانین او د اوبو د سکتور د واحدې اداری نه شتون، او داسی نور هغه ننګونې دي چې د خلکو پام ځان ته را اړوي (۲۰).

د آموسیند اوبیزه حوزه د افغانستان د خاورې ۱۴ سلنه برخه رامنځته کوي او اوبه یې د ټول هیواد په کچه د اوبو د جریان۵۷ سلنې ته رسیږي چې سرچینه یې د پامېر لوړو غرونو او د لوېديځ همالیا غرونو د لوېدیځو برخو ګنګلونو ته چې د افغانستان په شمال ختیځ کې پراته دي، رسیږي. دافغانستان تر ټولو لوړه نقطه د نوشاخ غر دی چې په آمو اوبیزه حوزه کې موقعیت لري او د سمندر له سطحې څخه ۷۴۸۴ متره لوړوالی لري (۱، ۲). دا حوزه په دریو لویو او دوه وړو فرعي حوزو ویشل شویده، چې د ټولو اوبه د آموسیند ته بهیږي (۱۹).

ددې څیړنې اصـلي موخه د آموسـیند اوبیزې حوزې د ګډو اوبو هایدرولوژیکي او حقوقي ارزونه ده چې په بیلابیلو وختونو کې د افغانسـتان او ګاونډیو ترمنځ پرې بحث شـوي او د نړیوالو قوانینو په پام کې  نیولو سره په آموســیند کې د افغانســتان د اوبو ګډون او په هیواد کې ترې ګټه اخیســتنه تربحث لاندی نیول شویده.

ددې څیړنې د سر ته رسولو لپاره د اوبو نړیوال قانون او ټول هغه پریکړه لیکونه او پروتوکولونه چې په تیرو لسیزو کې د افغانستان او شوروی اتحاد او ددوی د متحدینو ترمنځ شوی په پام کی نیول شویدی. دا څېړنه د نویو او عصری علومو، تکنالوژي او څیړنیزو تګلارو سره سمه تر سره شویده نو پایلې یې د آمو سیند اوبیزې حوزې د اوبو په سالم مدیریت، د اوبو څخه سمه ګټه اخیستنه، د کرنیزو پلانونو او پیښو د کنترل ، د اوبو لګولو پروژو په ودانیزو طرحو او دګاندیو هیوادونو سره د اوبو بحث، د استادانو او زده کړیالانو د راتلونکو څیړنو لپاره د ارزښت وړ بولم.

## دځیړنې مخینه

د آموسیند اوبیزه حوزه د افغانستان د نورو اوبیزو حوزو په څیرنه یوازې د یو هیواد، بلکې له ډیرو بهرنیو هیوادونو، لکه ازبکستان، ترکمنستان، تاجکستان او قرغستان سره ګډې اوبه لري. ددې حوزې د اوبو په هکله ډیرو نړیوالو ادارو او څیړونکو لیکنې او څیړنې ترسره کړیدي چې له ځینو معلوماتو یې په دې ځای کې یادونه شویده. په افغانستان کې، د آمو حوزې د اوبو له ټول جریان څخه، د پسرلي او اوړي جریانونه ۷۹ سلنه د اوبو جریان تشکیلوي، په منځنۍ توګه ۳۲ سلنه اورښت یې ضایع کیږي. د معلوماتو د ارزونې پایلې دا په ډاګه کوي چې، په دې حوزه کې په منځنۍ توګه تقریباً ۵۰ سلنه اوبه ضایع کیږي؛ اغیزمن اورښت یې له ۰,۶۹ میلي متره (خواجه غار) نه تر ۰,۱۷ میلي مترو (چهاردره) پورې رسیږي چې کلنی اوسط یې ۰,۵۵ ملي متره ښودل شویدی. آمو سیند د مرکزی آسیا له سیندونو څخه هغه لوی سیند دی چې، د افغانستان، تاجکستان، ازبکستان او ترکمستان هیوادو نو سره ګډې اوبه لري. ددې سیند د زیانمونکی اندیکس کچه (۰,۵۳) پورې ښکته شویده. دا په ډاګه کوي چې د آموسیند، د اوبو د زیرمو له لوی فشار سره مخ دی، ددې لپاره چې دغه فشار له منځه لاړ شي، په کار ده چې د زیرمو د اوږدمهاله اغیزمن مدیریت لپاره ستراتیژیک پلانونه جوړ شي، (۲).

افغانستان چې د آمو حوزې تر ټولو ورو سته پاتې هیواد دی، د آمو سیند ته ۲۱,۵ نه تر ۳۰ سلنه اوبه ورکوي، ددې هیواد موجوده اوبه او کرنیز جوړښت ددې وړتیا لري چې له ټولو اوبیزو سرچینو څخه له ۷ نه تر ۱۰ سلنه پورې ګټه واخلي. افغانستان په پلان کې لري چې د اوبه لګونې او برښنا په برخه کې لویې پروژې تر کار لاندې ونیسي (۳، ٤). هغه اوبه چې د افغانستان څخه آموسیند ته ورګډیږي د (Sultz's) د اټکل له مخې ۱٦,۳ بیلیونه مکعبه متره او د (Pyatogorsky's) د اټکل له مخې ۱٦,۵ بیلیونه مکعبه متره حساب شویدي، (٦). د افغانستان په شمالي برخو کې د کرنیزو ځمکو د خړوبولو لپاره په یو کال کې ۹ بیلیونه مکعبه متره اوبو ته اړتیاده، چې له سیندونو څخه راګرځول کیږي. څرنګه چې په ۱۹۹۰ م کلونو کې کرنیز سیستم خراب شو، دا کچه را ښکته شوه، ۲,۱ میلیونه مکعبه متره اوبه د افغانستان شمالي برخو په هغو کرنیزو ځمکو کې کارول کیږي چې د محلي (National/Blind) سیندونو په امتداد پرتې دي. د ۱۹۹۵ م کال، د اوبو د ثبت شوي لګښت د معلوماتو پر بنسټ ددغو سیندونو ټولې اوبه په کرنه کې کارول کیږي. آمو سیند د مرکزی آ سیا کې له لویو سیندونو څخه ګڼل کیږي چې، ۲۵٤۰ کیلومتره اوږدوالی لري، چې ۱۲۵ کیلومتره په افغانستان کې بهیږي. دا سیند په افغانستان کې ۲۵۰۰۰۰ مربع کیلومتره ځمکه خړوبوي او د سطحي جریان کچه یې په منځنې توګه په یو کال کې له ۱۳,۵ څخه تر ۱۹ کیلومتر مکعبه پورې رسیږي په داسې حال کې چې دآموسیند د اوبو

منځنۍ کچه په یو کال کې ۷۵ بیلیونه مکعبه متره ده چې په یو کال کې یې، د ۵ ســـلنه وخت لپاره د جریان کچه تر ۱۰۸ بیلیونه مکعبه متره پورې رســیږي او ۹۵ ســـلنه وخت یې دجریان کچه ۴۷ بیلیونه مکعبه متره اټکل شویده. آموسیند د افغانستان او تاجکستان له غرنیو څوکو د ګنګلونو، واورو د ویلې کیدو او اوربښت څخه سرچینه اخلي چې په اوړی (جولای او اګست) کې یې د اوبو کچه زیاته او په ژمی (جنوري او فبروري) کې یې د اوبو کچه کمه وي. د آموســـیند تر ۱۲ کیلومتره واټن پورې لوی مرستیالان د پامیر، واخان، بدخشـان، کوکچه، پنج، کندز، واخش، کافرینګن، سرخاندره او شـیرآباد درې؛ له سیندونو څخه عبارت دي چې ټول په غرنیو سیمو کې موقعیت لری (۶). له ۱۹۶۰ م کال د مخه، د آموســـیند دلتا، د اورال ســـمندرګي ته نه یوازی په کال کې ۷۹ مکعبه کیلومتره ســـطحي اوبه ورکولې بلکې کله به چې د اوربښت کچه ۱۰۰ میلي متره یا له هغه څخه کمه وه، د ځمکې لاندې اوبو په تغذیه کې یې هم ونډه درلوده؛ خو د ځمکې لاندی اوبو ریچارج دیر کم دی او هر پسرلـی به دغه دلتا ته پیاوړي ســیلاوونه راتلل (۱۳). له ۱۹۸۰ م کال څخه را پدیخوا په (ADRB) یا د آمو اوبیزه حوزه کې د کرنیزو ځمکو پراختیا او (THC) په مرسته د سیندونو مدیریت ددې لامل شول چې کلنی ډیسچارج له ۱۰ مکعبه کیلومترو څخه را ښکته شي او د طبیعي سیلاوونو رژیم یې هم تقریبا له منځه تللی دی (۱۱، ۲۷). په دې حوزه کې داوبو د جریان کمښت بیلابیل دلتایې ایکوسیستمونو لکه، بوټې، حیوانات، جهیلونه، پسته او ځنګلونو کې ډیر زیات بدلون رامنځ ته کړیدی او دا دلتا په بیلابیلو برخو لکه کرنه، ماهی نیولو او داسې نورو برخو کې ډیره مرسته کوي (۲۳).




لمړی انځور: د اورال سمندرګي اوبیزه ساحه (۲۶).

د اورال سمندرگي اوبيزه ساحه (ASDB) د مرکزی آسيا زياته برخه رامنځته کوي چې مساحت يې ۱,۸۷ ميليون مربع کيلومتره (چې د ځمکې د ټول مساحت ۱,۳ سلنه تشکيلوي) ته رسيږي، دا حوزه په شپږو هيوادونو (ازبکستان، ترکمنستان، قرغزستان، افغانستان، تاجکستان او قزاکستان) کې پرته ده؛ (3) شکل (۲۴). د کال څلور بيلابيل فصلونه؛ په دې حوزه کې دهوا د تودخې درجې د بدلون لوی لامل دی چې په ژمې کې يې د هوا تودوخه د سانتيگراد تر۳۰- درجو او په اوړي کې تر ۴۵ درجو پورې رسيږي، (۷). په پسرلې کې يې د اوربښت کچه زياته وي، او له پسرلی پرته د ټول کال په اوږدو کې لږ اوربښت لری، (۲۵). په اورال اوبيزه حوزه کې د تبخير کلنۍ کچه له غرنيو سيمو پرته په نورو سيمو کې د اوربښت له کچې زياته ده (۲۷). ځينې څيړنې دا ښيې چې په اوراول اوبيزه حوزه کې کرنيزې ځمکې په چټکه توگه د پراختيا په حال کې دي. په ۱۹۱۰ م کال کې ۲,۵ ميليونه هکتاره کرنيزه ځمکه وه، خو دا کچه په ۱۹۹۰ م کال کې ۷,۴ ميليونه هکتاره ، په ۲۰۰۰ م کال کې ۷,۹ ميليونه هکتاره او په ۲۰۰۷ م کال کې ۸,۵ ميليونه هکتاره ته ورسيده (۲۸،۲٦). ددې حوزي په لاندې پرتو برخو کې د اوبو د جريان ۹۰ سلنه، د کرنې تر نامه لاندې، دکانالونو په مرسته کرنيزو ځمکو ته ليږدول کيږي (۹). چې تر ټولو لوی سيستم يې د قراقوم کانال دی چې په م لسيزه کې د اوبو د ليږد په منظور د ۱۳۰۰ کيلومتره په سره ورغول شو. دغه کانال چې د آمو سيند له منځنۍ برخي څخه، په ازبکستان او ترکمنستان هيوادونو کې بيل شويدی په کال کې له ۸ نه تر۱۲ مکعبه کيلومتره اوبه د ترکمنستان هيواد ته ليږدوي (۷، ۱۵، ۲۴). د اورال سمندرگي حوزه يوه پراخه سيمه ده چې په ۲۰۰۸ م کال کې يې د نفوس شمير ۴۷ ميليونه تنو ته رسيده، دا کچه په ۱۹٦۰ او ۱۹۸۰ م کلونو کې په ترتيب سره ۱۵ او ۲۷ ميليونه تنه وه (۲۵، ۲۸).

### د څيړنې مواد او تگلاره

د موخې سره سم ددې ليکنې ټول علمي معلومات د راپورونو، علمي مقالو، څيزنيزو آثارو، د بيلابيلو هيوادونو د اوبو اړوند ادارو د راپورنو څخه را ټول شويدي. د څيړنې د بشپړيدو لپاره تگلاره په دې ډول ده چې، لمړی د آورال سمندرگي اوبيزې حوزې، چې د آمو سيند اوبيزه حوزه يې يوه برخه بلل کيږي او د آمو سيند اوبيزی حوزې په هکله، پوره معلومات په سريزه او مخينه کې ذکر شويدي، په تعقيب سره د څيړنې ساحه واضح شويده. د څيړنې اصلی موخه د آموسيند اوبيزې حوزې د گډو اوبو هايدرولوژيکي او حقوقی څيړنه ده چې په لاندې توگه ترتيب شويده:

- د گډو اوبو په هکله تر سره شوې پريکړې.
- د گډو اوبو په هکله د نړيوالو گډو اوبو د قوانين
- په آمو اوبيزه حوزه کې د اړوندو هيوادونو، ساحه، د اوبو گډون او گټه اخيستنه.
- پايلې او مناشه.

## دخیړنې ساحه

د آمو (Amu) کلمه په ترکې، منګولیایي او تانګوس (Tungus) ژبو کې د غړ یا شورماشور (Noise) معنی افاده کوي، او (Darya) کلمه په ترکي ژبه کې د سیند په معنې راغلې ده چې په محلي ازبکي ژبه کې آموسیند د غالمغالي سیند معني لري (۲). د آموسیند اوبیزه ساحه چې ۳۰۹۰۰۰ مربع کیلومتره مساحت لری (۵)، هر کال کې په منځنې توګه ۷۹ کیلومتره مکعبه اوبه د آموسیند ته ورکوي (۱۸). توپوګرافي، کنګلونه، د اورښت پوښښ او اقلیمي بدلونونه هغه مهم فکتورونه دي چې په آمو سیند اوبیزه حوزه کې یې جریانونه رامنځ ته کړیدي او په دریو بېلابېلو زونونو باندې ویشل شویده: ۱- پورتنی غرنی زون (پورتنی پامیر او هندوکش چې تر ۷۴۹۵ متره لوړوالی لري او د اوبو ۹۰ سلنه جریان را منځته کوي. ۲- د جریان منځنی برخې، چې لویې کرنیزې سیمې پکښې موقعیت. ۳- د جریان د کمښت ښکتنی زون چې د دلتاوو درلودونکی دی چې اوبه یې په پای کې د اورال سمندرګي کې تویږي. آموسیند یو له هغو دوو سیندونو څخه دی چې اوبه یې د اورل سمندرګي بهیږي، چې ۸۰ سلنه کلنی جریان یې په پامیر غرونو کې د واورو او کنګلونو د ویلې کیدلو له امله رامنځ ته کیږي(۲). که چیرې په دغه حوزه کې کنګلونه له منځه لاړ شي، تر ۱۰ میلیونه ډیر خلک به د اوبو له کمښت سره مخامخ شي؛ د اوبو لکښت ته نه پاملرنه او د اوبو له زیرمو څخه ناسمه ګټه اخیستنه به د اورال سمندرګي حوزه د اوبو له ستونزو سره مخ کړي (۲۹). له کرکې (Kerki) نه تر نکوس (Nukus) سیمې پورې د آموسیند تقریبا ټولې اوبه د مصنوعي کارونې له امله وچیږي. په مرکزې آسیا کې د اوبو پیوستون لپاره د هیوادونو ګډ کمسیون پر بنسټ، ددې حوزې تر ۴ میلیونه مربع کیلومتره؛ څمکه کرل شویده (۱۷).




دوهم انځور: د آمو سیند اوبیزه حوزه (۱۹)

**بحث او تحلیل**

**د ګډو اوبو پریکړې:** افغانستان د آمو سیند تر ټولو لوی شریک دی. کاونډیو هیوادونو د آمو سیند د اوبو د مدیریت لپاره پلانونه جوړ کړیدی، خو افغانستان ته یې د شامېلېدو حق نه دی ورکړی. افغانستان د روسیې سره په ۱۹۴۶، ۱۹۵۸ او ۱۸۷۳م کلونو کې ډېر تړونونه او پرېکړې ترسره کړیدي، چې د ټولو موخه او تمرکز د نړیوالو پولو په توګه د سیندونو کارول، سمندري ترانسپورټ او د اوبو پر کیفیت او کرنه باندی را څرخي، د اوبو ویش، برخې او ونډې یې پاملرنه نه ده کړې؛ ځکه چې دوې پر دې پوهیدل چې افغانستان د ګډو اوبو څخه کمه ګټه پورته کوي نو یې دغه مسله د نوموړو هیوادونو په ګډو موضوعاتو کې نده شامله کړی (۱٦). په ۱۹٦۱ او ۱۹٦۴ کلونو کې افغانستان د پخوانی شوروي اتحاد له هیوادونو سره دوه بیلابیل سندونه، په آموسیند اوبیزه حوزه کې د هایدرولیکی ودانیو او هایدروپاور کارونی په موخه لاسلیک کړیدی (۲۱).

په ۱۸۷۳ م کال کې افغانستان له خپلو شمالي ګاونډیو هیوادونو لکه روسیې، پخوانی شوروی او د مرکزی آسیا هیوادنو سره د آمو په سر هوکړه وکړه، چې په ترڅ کې یې آموسیند د نړیوالې کرښې په توګه ومنل شو، خو د ګډو اوبو په هکله یې پریکړه نه ده شوې. په ۱۹۷۷ م کال کې افغانستان، تاشکند او ازبکستان ته خپل استازی ولیږل تر څو د ګډو اوبو پر سر هوکړې وکړي. خو توافق ته ونه رسیدل (۲).

له۱۹۹۱م کال د مخه، د شوروی اتحاد د اوروال سمندرګي ګډو هیوادونو په خپل منځ کې د اوبو د ویش د حل لپاره په ۱۹۸۰ م لسیزه کې ګڼ شمېر تړونونه تر سره کړل. په ۱۹۸۷ م کال د مارچ میاشتي په ۱۲ نیټه د اوبیزو سرچینو وزارت د تخنیکې کونسل برخې او ساینسپوهانو د آموسیند د اوبو د ویش لپاره یو شمیر محدودیتونه چې په (۱) جدول کې ځای پر ځای شویدي تصویب کړل. د ۱۹۸۷ م کال د سپتمبر میاشتې په ۱۰ نیټه په مسکو کې د شوروی اتحاد د آموسیند څلورو هیوادونو دا پریکړه (۵٦٦- پروتوکول) په رسمي توګه ومنله، او تر اوسه پورې ددې هیوادونو د اوبو د ویش لپاره بنسټ بلل کیږي. ددې پروتوکول له مخې نوموړی هیوادونه له آموسیند څخه په کال کې ٦۱,۵ میلیارده مکعبه متره اوبه تر لاسه کوي؛ د افغانستان لپاره ۲,۱ ملیارده مکعبه متره اوبه په پام کې نیول شوی دي. د ۱۹۹۲ م کال د فبروري میاشتی په ۸ نیټه د پخواني شوروي اتحاد څخه جلا شویو پنځو هیوادونو (پرته له افغانستانه) چې د اورال سمندرګي په حوزه کې شامل دي یوې ګډې پریکړې ته چې د ګډو اوبو په هکله ترتیب شوې وه، ورسیدل. ددې پریکړې پر بنسټ دې پنځو هیوادونو دا ومنله چې د آموسیند دګډو اوبو د ویش لپاره به، ۵٦٦ پروتوکول ته ژمن وی. د ۱۹۹۲ م کال پریکړه د اوبو د

پیوستون لپاره د هیوادونو تر منځ ماموریت (ICWC) رامنځ ته کړ (٦). همداشان ۲۰۰۷ او ۲۰۱۰ م کلونو کې د افغانستان او تاجکستان تر منځ، د ۱۹۵۸ کال د پریکړې پر بنسټ، د آمو سیند په دواړو خواوو کې، د ستیشنونو نصبول، تحقیقاتو، هایدروپاور، د سیند د دواړو غاړو ټینګښت، د اوبو مدیریت او داسې نورو موضوعاتو په هکله، تړونونه تر سره کړیدي (۲۰).

## د اوبو نړیوال قوانین

**الف. تیوري:** د نړیوالو سیندونو مدیریت او د نړیوالو اوبو د قوانینو بنسټونه په څلورو نظریو ولاړ دی، دا نظریې د نفوس زیاتوالی، د ښارونو د اوبو اړتیا، انرژي او غذا، په اوبېزو حوزوکې د تمدن پرمختګ، د داوبو د زیرمو او برښنا لپاره د بندونو جوړول او لرې واټن سره د اوبو لیږد او داسې نور موخو په پام کې نیولو سره په تدریجي توګه غوړوالی مومي، او عبارت دی له:

۱. د مطلقه ځمکني حاکمیت تیوری (Theory of absolute territorial sovereignty): هر ملت کولی شي چې په خپل قلمرو کې د نړیوالو سیندونو له اوبو څخه، پرته له دې چې د نورو هیوادونو سره مشوره وکړی او یا په هغه باندې یې اغیزې په پام کې ونیول شی؛ ګټه واخلی. ددې نظریې پر بنسټ د پورتنۍ برخې (Upstream) هیواد کولی شي چې د لاندی برخې (Downstream) هیواد د اړتیا او مشوری پرته؛ له سیند څخه اوبه وګرځوي (۲۲).

۲. د مطلقه ځمکني بشپړتیا تیوري (Theory of absolute territorial integrity): ددې نظریې له مخې د نړیوال سیند په لاندې برخه کې پروت هیواد کولې شي، چې له طبیعی اوبو څخه د پوره جریان درلودونکی وي، او د جریان په پورتنی برخه کې، د هر هیواد لاسوهنه به د لاندې برخي د هیواد په رضایت پوری اړه لري. نو په دې توګه لاندې برخې هیواد حق لري چې د لوړو برخو څخه د دوامدره جریان په اړه دعوا وکړي، او د پورته برخې لمړیتوب د پام وړ نه دی (۲۲).

۳. دمحدود ځمکني حاکمیت تیوري (Theory of limited territorial sovereignty): ددې نظریې پر بنسټ هر هیواد آزاد دی چې د نړیوال سیند څخه په خپله خاوره کې ګټه واخلې، خو د خپلو ګاونډیو ګټې به په پام کې نیسي-او له تعصب څخه به ډډه کوي. پدې توګه ټول هیوادونه د خپلو ګډو نړیوالو اوبو په کارولو کې له متقابلو دندو او حقونو څخه برخه من دي تر څو په عادلانه توګه خپله ونډه تر لاسه کړي. دغه نظریه د خپلواکۍ حاکمیت او ځمکنی بشپړتیا به نامه پېژندل شویده. ددې نظریی ګټه داده چې په یو وخت کې د دواړو هیوادونو (پورتني او لاندې برخې) حقوق په رسمیت پیژني، او د پورتني هیواد لخوا د عادلانه کارونې حق تضمینوي. د مساوی او

معقول اســـتعمال او مکلفیت اصـــول، چې د پام وړ تاوانونه رامنځته نه کړي، د محدود ســـیمه ایزحاکمیت تیوری، برخه ده. دې نظریې د اوبو د نوي نړیوال قانون بنسټ رامنځته کړ (۲۲).

۴. د علاقې وړ (ګټو ) ټولنه (Comunity of interst): څلورمه نظریه په نړیوال ســـیند باندې د ګډو هیوادونو ترمنځ د ګټو ټولنه ده. داپه پهدی باور دي چې، د ســـیند د جریان په اوږدو کې د ټول حقوق، د هر ســـیال (هیواد) له خوا په مناســـب ډول ســـاتل کیږي، حق او ونډه د دوی ترمینځ د مناسب تناسب پر بنسټ ویشل کیږي او یا د هوکړې له مخې تعریفیږي (۲۲).

**ب. بنسټونه**

۱. د عادلانه او معقولې ګټې اخیستنې ا صل (Principle of equitable and reasonable utilization): دا اصـــل د اوبو د نړیوال قانون د دریمی تیوری څخه ملاتړ کوي او په حوزه کې شـــامل هیواد ته حق ورکوي چې په خپله خاوره کې د اوبو د زیرمو څخه په عادلانه او معقوله توګه ګټه واخلي، یا د اوبو له زیرمو څخه دې د خپلو لګښتونو لپاره په عادلانه او معقول ډول برخمن وي( د هیلسنکي قانون ۵ ماده ۱۹٦٦کال او د ملګرو ملتونو د ســـیندونو کنوانســـینون ۵ ماده، ۱۹۹۷کال). دا اصـــل د هیوادونو تر منځ د اوبو د مســـاوی ونډې په معنې نه دی، بلکی د عادلانه او معقولې ونډې اړوند فکتورونو د ټاکلو لپاره د حوزې جغرافیا، هایدرولوژي، په اوبو پورې اړوند وګړو، اقتصـــادي او ټولنیزې اړتیاوي، د اوبو څخه فعاله ګټه اخیســـتنه، راتلونکې باالقوه اړتیا، په طبیعي توګه اقلیمي او اکولوژیک لاملونه، او داسې نورو سرچینونه ته لاس رسی په پام کې نیول کیږي(د هیلسیکي قانون ۵ ماده، د ملګرو ملتونو د سیندونو کنوانسیون ٦ ماده او د برلین قانون ۱۳ ماده) (۱۴).

۲. د پام وړ تاوان نه اړولو مسولیت، (Obligation not to cause significant harm): دا ا صل د اوبو د نړیوال قانون د دریمې تیوري له مخې تر سره کیږي، ددې اصـــل له مخې، د اوبو په نړیواله حوزه کې شامل هیواد ته اجازه نه ده ورکړل شوې چې د ګډ سیند اوبه دا سې وکاروي چې په حوزه کې شـــامل بل هیواد ته، یا د هغه هیواد چاپیریال ته د پام وړ تاوان واړوي؛ او یا یې د خلکو ژوند، امنیت، ژوندي حیوانات او د مهمو موخو لپاره د اوبو کارونه تر ګواښ لاندې راولي. دا اصـــل د اوبو په ډیرو عصري نړیوالو کنوانسیونونو، تړونونو او هوکړو کې شامل شویدي (۱۴).

۳. د خبرتیا، مشورې او خبرو اترو اصول، (Principles of notification, consultation and negotiation): په نړیوالو ســـیندونو کې هر ګډ هیواد په داســـې حالت کې د خبرتیا، مشـــورې او خبرو اتر حق لري چې ګاونډی شریک یې د ګډو اوبو د کارولو له امله، حقونو او ګټو ته جدي ســـتونزې جوړوي. دغه اصول د ملګرو ملتونو د کنوانسیونونو، تړونونو او پریکړو لخوا منل شویدي. په داسې حال کې

چې ګڼ شمیر هغه هیوادونه چې د حوزې په پورتنۍ برخه کې موقعیت لري، د دې اصولو مخالف دي او د ملګرو ملتونو په ۱۹۹۷ م کال کنوانســیون کې دریو هیوادونو لکه ترکیه، اتوفیا او روندا چې د حوزو په پورتنی برخه کې موقعیت لري، رد کړیدي (۱۴).

۴. د مرستې او معلوماتو د راکړې ورکړې اصول، (Principles of cooperation and information exchange):
د نړیوال سیند ګډ هیوادونه دا مسولیت لري چې د اوبو د څرنګوالي په هکله خپل معلومات یو له بل سره شریک کړي او همدارنګه د سیند د جریان په اوږدو کې د موجوده او راتلونکو پلان شوېو پروژو په هکله معلومات یو له بل سره شریک کړي. دا موضــوع په ۱۹۶۶م کال کې د هیلســینکي اصولو لخوا وړاندې شویده په داسې حال کې چې د ملګرو ملتونو د ۱۹۹۷ م کال د سیندیزو اوبو کنوانسیون ۸ او ۹ ماده دا یو مسولیت ګڼې. په ډیرو نویو نړیوالو کنوانسیونونو، پریکړو او تړونونو کې له دې اصولو څخه ګټه اخیستل شویده (۱۴).

۵. د شــخړو ســوله ایز حل، (Peaceful settlement of disputes): دا اصــل ددې ملاتړ کوي چې په نړیوالو اوبو کې ټول دولتونه باید له ســوله ایزو لارو څخه د شــخړو د هوارولو په لټه کې وي. ډیر نوې بین المللی کنوانسیونونه، تړونونه او پریکړې په دې اصولو کې ګډون لري (۱۴).

**په آمو اوبیزه حوزه کې ګډ هیوادنه او د هغوې ونډې**

د آموســیند اوبیزه حوزه د افغانســتان د نورو اوبیزو حوزو په کچه نه یوازې د یوه هیواد سره بلکې له ډیرو هیوادونو لکه ازبکستان، ترکمنستان، تاجکستان، قرغستان او قزاقستان سره شریکې اوبه لري. زمونږ هیواد د آموسیند د اوبو په ګډون کې له تاجکستان څخه وروسته دویم هیواد دی چې ۳۰ سلنه اوبه د آمو ســیند ته برابروي، خو له بده مرغه زمونږ هیواد له یادو اوبو څخه ګټه نه اخلي او تر ټولو ډیره ګټه ترې ازبکستان هیواد پورته کړیده. ددې حوزې ټوله ساحه ٦ میلیونه هکتاره کرنیزه ځمکه ده چې د ځمکې او څانګو تفصیل یې په (۱) جدول کې واضح شویدي. د ازبکستان هیواد په دې حوزه کې تر ټولو ډیره یعنې، ۲,۳ میلیو نه هکتاره کرنیزه ځمکه لري، ترکمنســتان۱,۷ میلیو نه هکتاره، تاجکستان ۰,۵ میلیون هکتاره او قرغزستان ۰,۱ میلیونه هکتاره کرنیزه ځمکه لري.

د افغانســتان ۱,۲ میلیونه هکتاره کرنیزه ځمکه په دې حوزه کې شــتون لري. د آموســیند زیاتره اوبه په افغانستان او تاجکستان کې رامنځته کیږي، خو د ترکمنستان او ازبکستان هیوادونه پرې ترټولو ډیرې او پراخه کرنیزې ځمکې خړوبوي او ددې سیند زیاتره اوبه په دې هیوادونو کې کارول کیږي (٦).

لمړی جدول: په آموسیند اوبیزه حوزه‌کې ګډ هیوادونه، مساحت، د اوبو ونډې (٥٦٦ پروتوکول) او ترې ګټه اخیستنه (۳، ۱٦)

| هیواد | ٥٦٦ پروتوکول، پریکړه داوبوونډه Km3/Year | دونډې سلنه | کرنیزه ځمکه (Mha) | آمو ته د اوبو ورکړه Km3/year | د تولید سلنه | د اوبو کارول KM3/year |
|---|---|---|---|---|---|---|
| افغانستان | ۰ | ۰ | ۱,۲ | ۲۴ | ۳۰ | ۵ |
| تاجکستان | ۹,۵ | ۱۵,۴ | ۰,۵ | ۴۹ | ٦۱ | ۷,۹ |
| ازبکستان | ۲۹,٦ | ۴۸,۲ | ۲,۳ | ۴,۸ | ٦ | ۲۲ |
| ترکمنستان | ۲۲ | ۳۵,۸ | ۱,۷ | ۰,۸۲ | ۱ | ۲۲ |
| قرغزستان | ۰,۴ | ۰,٦ | ۰,۱ | ۱,٦ | ۲ | ۰,۱۵ |
| مجموع | ٦۱,۵ | ۱۰۰ | ۵,۸ | ۸۰,۲۲ | ۱۰۰ | ۵۷,۷ |

**افغانستان:** افغانستان د اورال سمندرګي د اوبو مهمه سرچینه ده چې له تاجکستان څخه ورو سته د آمو اوبیزې حوزې دویم لوی مرستیال ګڼل کیږي، دا هیواد د آمو حوزی ۱۵ سلنه برخه او ۱۷ سلنه نفوس رامنځته کوي. د آموسیند د ۱۲۵۰ کیلومترو په اوږدوالي ددې هیواد دننه ۱,۲ میلیونه هکتاره ځمکه خړوبوي چې دهغه له جملې څخه ۳۸۵۰۰۰ هکتاره کزنیزه ځمکه په فرعي حوزو کې شتون لري او له داومداره جریانونو څخه برخمنه ده. دا حوزه د برښنا د تولید لپاره تر ټولو مهمه حوزه بلل کیږي چې د ۱۹۷۹ م کال څخه د مخه ۱۰ سلنه انرژي ته یې وده ورکړی شوې وه. افغانستان د آموسیند څخه په کال کې ۵ کیلومتره مکعبه اوبه اخلي او ۲۴ کیلومتره مکعبه یا ۳۰ سلنه اوبه ورکوي (۳، ۱٦). د آمو سیند اوبیزه حوزه د هیواد د اوبیزو حوزو په کچه ۱۴ سلنه م ساحت،۲۳ سلنه کرنیزې ځمکې،۱۴ سلنه نفوس او ۵۷ سلنه د اوبو جریان لري (۱).

**تاجکستان:** تاجکستان د نورو ګډونوالو په پرتله په دې حوزه کې ۰,۵ میلیونه هکتاره کرنیزه ځمکه لري او ۴,۵ میلیونه نفوس یې په کښې میشت دی. په تاجکستان کې د آموسیند د جریان، دوه په دریمه برخه د اوبو زیرمې شتون لري او دې سیند ته ٦۱ سلنه ۴۹ مکعبه ملیاره اوبه ورکوي، د ٥٦٦ پرتوکول له مخې ۹,۵ بیلیونه مکعبه اوبه حق ورکړل شویدی. په دې هیواد کې د نورك او راغون بندونه شتون لري چې کولای شي د څو کلونو لپاره اوبه وساتي، دغه هیواد په پام کې لرې چې د حوزې اړوند ٦۰ سلنه کرنیزو ځمکو ته پراختیا ورکړي چې له دې سره به یې د اوبو غوښتنه لوړه شی (۳، ٦، ۱۷).

**ازبکستان:** د آمو سیند د ازبکستان هیواد له دریو لویو ولایتونو څخه تیریږي، دا هیواد په آمو اوبیزه حوزه کې تر ټولو ډیره ځمکه( ۲,۳ میلیونه هکتار) او نفوس لري، دا هیواد آموسیند ته ٦ سلنه اوبه ورکوي او ترټولو ډیرې، ۲۹,٦ مکعبه میلیارده یا ۴۸,۲سلنه اوبه ترې اخلي، د ٥٦٦ پروتوکول له مخې د آموسیند اوبه په کرکي ستیشن کې په دوو مساوی برخو ویشل کیږي چې نیمایې ( ۲۲ بیلیونه مکعبه

متره) يې ازبکستان ته ځي، دا هيواد له آمو څخه د پمپونو او اوږدو کانالونو په مرسته د پورپالانګ بند ته چې په سرخاند دريا ولايت کې موقعيت لري، ليږدوي. د بخار لوي کانال چې پخوانې شوروي په وخت کيندل شوې، له آموسيند څخه د نوايي ساحې ته اوبه ليږدوي. د يادولو وړ ده چې د آموسيند ۸۱ سلنه اوبه د ازبکستان او ترکمنستان هيوادونو لخوا کارول کيږي (۳، ٦).

**ترکمنستان:** د نفوسو د شمېر له مخې د آموسيند لپاره د اوبو څخه تر ټولو لوي ګټه اخيستونکی هيواد ترکمنستان بلل کيږي، دا هيواد ډيرې دښتی لري ،کرنيزه ځمکه يې ۱،۷ ميليونه هکتاره ده. ددې هيواد د اوبو تر ټولو لوی کانال د قراقوم کانال بلل کيږي، دا کانال ۱۴۰۰ کيلومتره اوږدوالی لري چې ددې هيواد د ۴ څخه تر ۵ ميليونه هکتاره ځمکه خړوبوې، دا کانال چې د آموسيند څخه سرچينه اخلی، په ۱۰۰۰ کيلومتره اوږدوالی سره د قراقوم دښتې ۱ ميليون هکتاره ځمکه خړوبوی او د ترکمنستان سويلی برخو ته د څښاک اوبه برابروي. دا هيواد دکرنی لپاره ۱،۲ مکعبه کيلومتره اوبه د مرغاب او هريرود سيندونو څخه تر لاسه کوي. د اوبو کمزوری مديريت لري او زياته کچه اوبه په داسې توګه په کرنه لګوي چې اغيزمنتوب يې د ځمکې لپاره کم دی. له کرکې ستيشن څخه وروسته د آموسيند ۵۰ سلنه اوبه ترکمنستان ته ځي. ترکمنستان په پام کې لري چې د قراقوم په دښته کې يو جهل جوړ کړي، که چيرې دا پلان عملي کړي نو له آموسيند څخه د قراقوم کانال لارې د اوبو ګرځولو کچه زياتيږي چې دابه به په اورال سمندرګې او ازبکستان کې داوبو کمښت رامنځ ته کړي. د يادولو وړ ده چې ترکمنستان ټولې اوبه له بهرنيو هيوادونو تر لاسه کوي چې آموسيند يې تر تولو مهمه سرچينه بلل کيږي او ددې هيواد ۹۰ سلنه اړتياوې پوره کوي( ۳، ٦، ۱۷).

**قرغزستان:** دا هيواد په آمو حوزه کې د ۰،۱ ميليونه هکتاره کرنيزو ځمکو په درلودلو سره تر ټولو وروستی شريک بلل کيږي، نوموړې هيواد آموسيند ته ۲ سلنه يا په کال کې ۱،٦ معکبه ملياره اوبه ورکوي او د ۵٦٦ پريکړې له مخې ۰،۵ مکعبه ملیارده اوبه ترې اخلي.

**موندنې او مناقشه**

د اوبو د نړيوال قانون د تيوريو او اصولو له مخې د آمو سيند يو نړيوال سيند بلل کيږي، چې پنځه هيوادونه په کې ونډه لري. څرنګه چې دا سيند له تاجکستان څخه پيل کيږي او د اورال سمندرګې ته ځې، نو له اوبو څخه ټول هيوادونه ګټه پورته کوي. افغانستان يو له هغو هيوادونو څخه دی چې دې سيند ته اوبه ورکوي، افغانستان په نوموړی اوبيزه حوزه کې د اوبو جريان د رامنځته کولو له مخې دويم، د کرنيزو ځمکو له مخې دريم، د اوبو د کارولو له مخې څلورم ځای لري. خو د ۵٦٦ پروتوکول له مخې ددې سيند په اوبو کې هيڅ ونډه نلري. افغانستان د اوبو د نړيوال قانون د لمړی تيوري له

مخي حق لري چې د ازبکستان او ترکمنستان له اجازې پرته له آموسیند څخه پوره اوبه وکاروي، د دویمې تیوري له مخې دا هیواد حق لری چې د تاجکستان او قرغزستان سره په ټولو اوبیزو پروژو کې مداخله وکړي، په آمو سیند کې د تاجکستان هیواد هره پریکړه باید له افغانستان سره شریکه شي، د دریمی تیوری له مخې دا هیواد آزاد دی چې له آموسیند څخه پوره ګټه واخلي، دا هیواد اوسمهال تر ۵ مکعبه ملیارده اوبه کاروي چې د ګاونډیو هیوادونو په پرتله دیرې کمې دي، افغانستان کولای شي دا کچه د ازبکستان او ترکمنستان هیوادنو کچې ته چې ۲۲ مکعبه ملیارده ده، ورسوي او د څلورمې تیوري له مخې؛ دا هیواد خپلو کرنیزو ځمکو، نفوس، د سیلابونو ویجاړیدل، د اوبو د جریان تولید او د اوبو کارولو ته په پاملرنې سره کولای شي چې د ٥٦٦ پروتوکول پرتوکول لغوه او په نوموړې سیند کې د خپلو اوبو حق تثبیت کړي.

د اوبو د نړیوال قانون د اصولو، لمړې اصل افغانستان ته دا حق ورکوي چې په خپل خاوره کې د اوبو د زیرمو څخه په عادلانه او معقوله توګه ګټه واخلي، یا د اوبو د زیرمو څخه دې د خپلو لګښتونو لپاره په عادلانه او معقول ډول برخه ولري. دا هیواد د حوزې اړوند په خپله خاوره کې دری مهم سیندونه لري چې د پنج، کندز او کوکچې څخه عبارت او د آ مو سیند ته اوبه ورکوي، ددې اصل له مخې افغانستان پوره حق لري چې له دې سیندونو څخه په پوره توګه ګټه واخلي. او په ۱۹۵۸ کال ترون کې هم دا حق افغانستان ته ورکړل شویدی. څرنګه چې افغانستان په تیرو ۴۰ کلونو کې له نوموړو سیندونو څخه پوره ګټه نه ده اخیستې او ټولی پلان شوې پروژې یې په ټپه ولاړی وی، نو اوسمهال حق لري چې، کرنیزې ځمکې پراخه او د هایدروپاور انرژي کچه لوړه کړي؛ نو له همدې امله ددې قانون دویم اصل په افغانستان کې د پام وړ نه بلل کیږي بلکې د دریم او څلورم اصل له مخې افغانستان حق لري چې د تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان سره په نویو پلان شویو پروژو بحث وکړي. دریم او څلورم ا صل تاجکستان، ترکمنستان او ازبکستان ته دا اجازه نه ورکوي چې د افغانستان له اجازې پرته کرنیزې ځمکو، هایدروپاور، اوبو رسولو سیستمونو او بندونو ته پراختیا ورکړي، څرنګه چې افغانستان د شمالي ګاونډیو هیوادونو سره ښې اړیکې لري نو په کار ده چې د پنځم اصل له مخې د ګډو اوبو ستونزی د نړیوالو اوبو د ټولو اصولو او تیوریو په پام کې نیولو سره حل کړي، د افغانستان نړیوالی سرحد باید د آموسیند ونه بلل شي بلکې د نړیوال سرحد لپاره د کوردیناتو ټاکل تر ټولو اړینه مو ضوع ده دا ځکه چې د آمو سیند، د افغانستان لوری تل ویجاړوي او خاوره یې د ازبکستان لوري ته اړوی.

## پایلې

د آموسیند چې څه باندې ۲۵۰۰ کیلومتره اوږدوالی لري د تاجکستان څخه پیل او په اورال بهیره کې تویږي، ددې سیند اوبیزه حوزه د اورال سمندرگي د حوزې؛ له نیمایي څخه زیاته برخه رامنځته کوي چې د ازبکستان، ترکمنستان، افغانستان، تاجکستان او قرغستان خاوره په بر کې نیسي. آمو سیند د یادو هیوادونو گډ سیند بلل کیږي. دې سیند ته تر ټولو زیاتی اوبه تاجکستان ورکوي. تر ټولو ډیره گټه تری ازبکستان او ترکمنستان هیوادونه اخلي. د ازبکستان ډیرې کرنیزې ځمکې له دې سیند څخه خړوبیږي، ترکمنستان له آمو سیند څخه لوی کانالونه گرځولي دي.

تاجکستان په دې حوزه کې لوی بندونه لري او افغانستان په کې ۱,۲ میلیونه هکتاره کرنیزه ځمکه لري، آمو سیند ته ۳۰ سلنه اوبه ورکوي او تر ټولو کمې اوبه ترې اخلي. د دې حوزې دگډو هیوادونو ترمنځ په بیلابیلو وختونو کې د آمو سیند اړوند پریکړې ترسره شویدي، چې د ډیرو تمرکز د پولې به حیث د آموسیند پیژندل او په خپلو سیمو کې د آمو سیند د مرستیالانو د اوبو کارول څرگندوي، خو د ۱۹۸۷ م کال تړون چې ٥٦٦ پروتوکول بلل کیږي له افغانستان څخه پرته د گډو هیوادونو په هوکړه رامنځ ته شویدی، څرنگه چې افغانستان په تیرو څو لیسیزو کې له جنگ سره مخ وو، زیاتره اوبیز سیستمونه یې ویجاړ او له کاره لویدلي دي، نو په دې موده کې د آمو پر سر د افغانستان څخه پورته او ښکته هیوادونو د آمو سیند د اوبو لپاره پراخه اوبیز سیستمونه، کرنیزې ځمکې پراخه کړیدي، چې د افغانستان لپاره لویه ستونزه بلل کیږي.

افغانستان د نړیوالو اوبو د قوانینو پر بنسټ اوسمهال حق لري چې د کاونډیو هیوادونو سره د آموسیند د گډو اوبو په هکله بحث وکړی، په ٥٦٦ پروتوکول کې ځان شامل کړي او د حوزې له مرستیالو سیندونو څخه په پوره توگه گټه واخلي.

**منابع**

(۱) تنیوال، محمد ظریف. د افغانستان عمومي جغرافیه.کابل. پوهنتون کابل. ۱۳۸۹، صص ٦٦- ۷۰.

(۲) رحمتزی، اسدالله. د آموسیند اوبیزی حوزی هایدرولوژیکی اروزنه. کابل. کابل پوهنتون. ۱۳۹۸، صص ۵-۱۱۰.

(۳) محمودی، سلطان محمود. مدیریت جامع منابع آبی در حوزه های آبریز افغانستان. جلد دوم. ۱۳٦۹، صص ۲۹-۷۰.

(4) Abdullaev. I, et al. The use of water resourece in the Amu Daryabasin. EastWest institute. 2012.

(5) ADBN info. Amu Dary Basin Newtork. Anum Darya River Basin. http://amudaryabasin.net/content/amu.darya.river.basin, Accessed on 05 March, 2013.

(6) Ahmad,Masod. Wasiq,Mahwash. Water Resource Development in Northern Afghanistan and Its Implications for Amu Darya Basin. World Bank. 2008, PP. 6-66.

(7) Asarin, A. E; Kravtsova, V. L and Mikhailov, V. N. Amudarya and Syrdarya Rivers and their Delta. Hdb Eavi Chem., 7, pp. 101-121. DOI:10.1007/698.2009. 8.

(8) Bortnik, V. N. Alteration of water leval and salinity of the Aral Sea. In Glantz, M. H. Creeping environmental problems and sustainable development in the Aral Sea basin. Camb. Univ.Press.1999, pp. 47-66.

(9) Cai, Ximing. McKinney D.C. and Rosegrant. M. W. Sustainability analysis for irrigation water management in the Aral Sea region. Agricultural System, 2003; 76 (3), pp. 1043-1066.

(10) CAWaterinfo. the Aral Sea Bsin. 2011.

(11) Crosa, G. Froebrich, J. Nikolayenko V., Stefani. F, Galli. P, Calamari. D. Spatial and seasonal variations in the water quality of the Amu Darya River (Central Asia) Water Res. 2006, PP. 40, 2237-2245.

(12) FAO, AQUASTAT survey. 2012.

(13) Froebrich J. and Kayumov. Odil. Water management aspects of Amu Darya-options for future startigies. (J.C.N ihoul et al. (eds.)). Dying and Dead Seas. 2004; 2, PP. 49-76.

(14) Gander. Malcolm Johns. The role of international water law and supporting universally appllication water management principleinthe the development of a moodel transboundary agreement between riparians in interanational ririverbasin. PHD thesses. Washington state universitye. 2013.

(15) Glantz, M.H. Water, Climate and developmet issue in the Amu Darya Basin. Mitigation and Adoptation Stratigies for Global Change. 2005, 10, PP. 23-50.

(16) Horsman. Stuart. Afghaninstan and transboundary water management of the Amudarya: A polictical history. Foreign and commonwealth office, United Kingdom. Central Asian Water-Part 2. 2008, PP. 63-74.

(17) ICWC. http:// www.icwc-aral-ux/hwoamu.htm (last access: 21 Nov 2010)

(18) ICWC info. Interstate Commission for Water Coordination of Centeral Asia. Basin Water Orgnization “Amudary”. http://www.icwc.aral.uz/bwoamu.htm, Accessed on 03 March, 2013.

(19) Jensen, Iris Hedegaard et all. River basin modelling of the Amu Darya Basin. Central Asia. Technical University of Denmark. 2010.

(20) King. Matthew and Sturtewagen, Making the most of Afghanistan river basins opportunities for regional cooperation . East West institute. 2010.

(21) Klemm. Walter Shobair. Sayed Sharif. The Afghan part of Amu Darya basin impact of irrigation in north Afghanistan on water use in the Amu darya basin, FAO.

(22) Rahman. Muhamad Mizanur. Principles of international water law: creatin effective transboundary water resources management. international jounal of sustainable society. 2009.

(23) Schluter M, Savitsky. A.G, McKinney D.C. and Lieth H. Optimizing long-term water allocation in the Amudarya River Delta: a water management model for ecological impact assessment. Environmental Modling& Softwar, 20; pp. 529-545. DOI: 10.1016/j.envsoft.2004,03.005.

(24) Shibuo Y. Jarsjo J. and Destouni G. Hydrological responses to climate change and irrigation in the Aral Sea drainage basin, Geophys. Res. Lett., 34. L21406, DOI: 10.1029/2007GL031465.

(25) Sokolov, V. Future of irrigation in Central Asia. IWMI.FAO Workshop trends and trasitions in Asian irrigation. What are the prospects for the future? 19-21 Jan 2009 Bankok.

(26) Su Ye. The Impacts of Climate change on river flow and riparian vegetation in the Amu Daray river Delta, Cental Asia. Department of physical Geography and Quaternary geology. Master Thesis. 2012.

(27) Tornqvist R. and Jarsjo J. Water savings through improved irrigation techniques: Basin scale quantification in semi-arid environments. Water Resource Management, Online First, 2011; DOI:10.1007/s1126-011-9819-9.

(28) UNDP. Water, Critical resource for Uzbekista's Future. UNDP program Tashent, Uzbekistan. 2007, p. 121.

(29) UNESCO. The United Nation Wrold Water Development Report 3: Water in a Chainging World. UNESCO, Paris. 2009.